هفته واره رساله

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب

"فیضانِ نماز" یو قسط:

# د سجدې فضائل

(پښتو)



د بخښنې نُسخه

د شُکر د سجدې کولو طریقه

په خاورو د خر تندې فضیلت

د زړهٔ نُور او د مخ ځلېدل

ترجمه
TRANSLATION DEPARTMENT
(DAWAT-E-ISLAMI)


شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال

محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

# د سجدې فضائل [1]

دُعائے عطّار: يا رَبَّ الـمصطفےٰ! څوک چې دا رساله " د سجدې فضائل " ولولي يا واوري هغه ته د سجدو خوندونه ورعطا کړې او د هغهٔ مخ پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې روښانه کړې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د نـمونځ نه پس د حمد او ثنا او د دُرُود شريف لوستونکي ته د مدينے منورې سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دُعا کوه قبلولېږي به ، سوال کوه، درکړے کېږي به-
(نسائی، ص 220، حديث: 1281)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بخښنې نُسخه

حضرت ابو سعيد خُدري رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: کوم بنده چې د سجدې پهٔ حالت کښې درې کرته ووائي: " " يَا رَبِّ اغْفِرْلِیْ، يَا رَبِّ اغْفِرْلِیْ يَا رَبِّ اغْفِرْلِیْ " [2] چې کله هغهٔ خپل سر پورته کوي نو د هغهٔ مغفرت (يعني بخښنه) به شوې وي- (مصنف ابن ابی شيبه، 33/7، حديث: 3)

---

[1]... دا مضمون د امیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب فيضانِ نماز صفحه 255 نه 264، 268 نه 270 او صفحه 273 نه 279 پورې اخستے شوے دے-

[2]... ترجمه: اے پرْوَرْدَګاره! ما وبخښې ، اے پرْوَرْدَګاره! ما وبخښې ، اے پرْوَرْدَګاره! ما وبخښې-

(دا دُعا د نفل نـمونځ پهٔ سجدو کښې لولئ يا د نفل نه علاوه د الله پاک پهٔ نعمتونو باندې د سجدهٔ شُکر پهٔ نيت سجده وکړئ او پهٔ هغې کښې دا او چې څومره جائزې دعاګانې غواړئ نوکوئ يې)

ياخدا ميری مغفرت فرما باغِ فردوس مرحمت فرما

(وسائلِ بخشش، ص 75)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ سجده کښې ډيرې دُعاګانې کوئ

د رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "بنده د سجدې پهٔ حالت کښې خپل رَبِّ کريم ته ډير نزدې وي، ځکه تاسو پهٔ سجده کښې پهٔ کثرت سره (يعني ډيرې) دُعاګانې کوئ-" (مسلم، ص198، حديث: 1083)

شرحِ حديث: د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکلي دي: رَبِّ کريم خو مونږ ته هر وخت نزدې دے (خو) مونږ د هغهٔ نه لرې يو، البته د سجدې پهٔ حالت کښې زمونږه د هغهٔ خصوصي قُرب (يعني خاص نزدې والے) نصيب کيږي، ځکه دا قُرب (يعني نزدې والے) غنيمت وګڼئ او چې څهٔ غواړئ اوئې غواړئ- (مرآة المناجيح، 82/2)

## د شُکر د سجدې د پاره اودس لازمي دے

د شُکر پهٔ سجده کښې اودس لازمي دے او بغير د شُکر د سجدې نه عادتاً چې کومه سجده کولے شي د هغې د پاره اودس ضروري نهٔ دے ځکه چې دا شرعي سجده نهٔ ده، صرف يو مُباح عمل دے نهٔ ثواب دے او نهٔ ګناه- د نـمونځ نه علاوه که پهٔ سجدو کښې دُعاګانې کوئ نو د عربئ نه علاوه يـې پهٔ نورو ژبو کښې هم کولے شئ-

## د سجدې په حالت کښې په دُعا کښې کوشش کوئ

د صحابئ ابنِ صحابي حضرت عبدُ الله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُما نه روايت دے چې د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "زۀ په رُکوع او سجده کښې د قرآن د تِلاوت نه منع کړے شوے يم، په رُکوع کښې خو د رَبّ تعظيم کوئ او په سجده کښې په دُعا کښې کوشش کوئ ولې چې هُغه دُعاګانې د قبليدو لائقې دي- (مسلم، ص196، حديث: 1074)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاک په شرحِ کښې ليکلي دي: د نفل نـمونځ په سجدو کښې صراحتاً (يعنې په صفا لفظونو کښې) دُعاګانې کوئ او د نورو نـمونځونو په سجدو کښې د رَبِّ کريم تسبيح او تَحمِيد (يعنې پاکي او خوبي بيانوئ) چې دا هم ضمني دُعا ده، (يعنې يو قِسم له دُعا ده ځکه چې) د کريم تعريف هم دُعا وي- بعضې بزرګان ليدلے شوي دي چې هغوئي سر په سجده شي او دعاګانې کوي د هغوئي ماخَذ (يعنې بنياد) دا حديث دے ځکه چې د سجدې په حالت کښې بنده ربِّ کريم ته ډير نزدې وي، د دې حالت دُعا به اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ضرور قبليږي- (مرأة المناجيح، 71/2)

## د سجدې په حالت کښې د دُعا د قبليدو ډير اُميد دے

د اعلىٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ والدِ محترم مولانا نقي علي خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په " فضائلِ دُعا" کښې د قبليدو په 45 وختونو او حالاتو کښې شلم [20] دےچې: په سجده کښې- (د دُعا د قبليدو قوي يعنې مضبوط اُميد دے) (فضائل دعا، ص121)

## د دُعا د قبليدو توفيق ميلاؤيدل د شُکر د سجدې موقع ده

د " فضائلِ دُعا" په صفحه 62 باندې د اعلىٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د ورکړے شوي اِرشاد خُلاصه ده چې: د الله پاک په بارګاه کښې د دُعا

او د خواست په توفيق ميلاوېدو باندې، د شُکر د سجدې په نيت باندې سجده کوئ چې بنده د سجدې په حالت کښې خپل رَبِّ کريم ته د ټولو نه زيات نزدې وي، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: بنده د سجدې په حالت کښې خپل رَبِّ کريم ته ډير نزدې وي ځکه تاسو په سجده کښې ډيرې دُعاګانې کوئ۔ (مسلم، ص198، حديث: 1083)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## چې څنګه پيدا شو نو سجده يې وکړه

حضرت مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کوي: هغه (يعنې د ولادت) په وخت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک په بارګاه کښې سجده وکړه او اوئې وئيل: رَبِّ هَبْ لِيْ اُمَّتِيْ (ترجمه:) " خدايه! زما اُمت زما په وسيله وبخښې۔ (يعنې زما اُمت ما ته راکړې) " خطاب وشو (يعنې ورته ووئيلے شو): وَهَبْتُكَ اُمَّتَكَ بِاَعْلٰى هِمَّتِكَ (ترجمه:) "ما ستا اُمت ستا د اوچت همت په سبب وبخښو (يعنې تا له مې درکړو)۔" بيا فرښتو ته د (الله پاک) ارشاد وشو: " اے زما فرښتو! ګواه اوسئ چې زما حبيب خپل اُمت د پيدا کيدو په وخت هير نۀ کړو نو هغه به د قيامت په ورځ باندې څنګه هير کړي!" (انوارِ جمالِ مصطفٰے، ص104)

رَبِّ هَبْ لِيْ اُمَّتِيْ، کہتے ہوئے پیدا ہوئے
حق نے فرمایا کہ بخشا، اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مهر (Stamp) ليکل (فرضي حکايت)

يو نيک انسان ته چا خپلې پريشانۍ بيان کړې او اوئې وئيل: چې کوم کار کووم هغه اُلټا کيږي، څۀ وکړم! هغوئي پوښتنه وکړه: مهر (Stamp) دې ليدلے

دے؟ اوئې وئیل: لیدلے مې دے- پوښتنه یـې وکړه: آیا تا ته معلومه ده چې پۀ مهر باندې لیکل څنګه وي---؟ اوئې وئیل: پۀ هغې باندې اُلټا لیکل وي- اوئې فرمائیل: آیا دا وئیلے شې چې هغه څنګه سیدها کیږي؟ جواب یـې ورکړو: چې کله لفظونه پۀ سټام پیپر باندې ولګي نو سیدها شي- اوئې فرمائیل: لکه څنګه چې مهرخپل تندے پۀ کاغذ باندې لګوي نو د هغه اُلټا لفظونه سیدها کیږي، داسې تۀ هم اودس وکړۀ او جومات ته راشۀ او د خپل خالِق او د مالِک پۀ حضور کښې سجده وکړۀ اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیْم! ستا اُلټا کارونه به هم سیدها شي-

## د ”سجدې“ د څلورو حرفونو پۀ نسبت پۀ سجده کښې د دُعا قبلیدو څلور واقعات

## ﴿1﴾ حضرتِ سلیمان عَلَیْهِ السَّلَام او یو زمیدار

حضرت ابو عبدُ الرحمان دِمشقي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیان کوي چې حضرت مَکحُول دِمشقي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (د اللّٰه پاک خوږ نبي) حضرت سلیمان بن داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د ویښتو نه پۀ جوړه کړے شوې یوه چټایۍ باندې تشریف فرما وو او د هغوئي اصحاب د هغوئي نه ګیر چاپیره ناست وو- هغوئي هوا ته حکم وکړو نو هغې چټائي بره پورته کړه، پیریان او اِنسانان د هغوئي نه مخکښې روان وو، مرغو پرې سورے کړےوو- یو زمیدار پۀ پټي کښې کار کولو- هغۀ پۀ زړۀ کښې ووئیل: که حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام زما مخې ته وے نو ما به هغوئي ته دا درې خبرې کولې، اللّٰه پاک حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي وفرمائیله چې د زمیدار خوا له لاړ شۀ- هغوئي پۀ اس باندې کیناستو او د هغۀ خوا له یـې تشریف یوړلو او اوئې فرمائیل: اے زمیداره! زۀ سلیمان یم، تۀ چې څۀ پوښتنه کول غواړې نو وکړۀ! زمیدار عرض

وکړو: تاسو ته زما د زړهٔ د اِرادې پته څنګه ولګيده؟ ارشاد يې وفرمائيلو: الله کريم ما ته د دې عِلم راعطا کړو- زميدار عرض وکړو: ما پهٔ دې عِلم باندې يقين وکړو- (وړومبى خبره دا ده:) پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! کله چې ما تاسو پهٔ نعمتونو کښې وليدلې نو ما ځان ته ووئيل چې د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام تير خوندونه او نعمتونه ختم شي خو زهٔ چې پهٔ کوم محنت او ستړي والي کښې پرون ووم هُم هٰغه شان نن هم يم، خو حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام هم تير خوندونه بيا نهٔ محسوسوي او زهٔ هم تير تڪليفونه بيا نهٔ محسوسوم- حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام چې دويمه پوښتنه وکړه نو هغهٔ عرض وکړو: ما ځان ته دا ووئيل چې حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام به هم پهٔ دې دُنيا کښې هميشه نهٔ پاتې کيږي او زهٔ به هم مړ کيږم- ارشاد يې وفرمائيلو: تا رښتيا ووئيل: زميدار عرض وکړو: دريمه خبره صرف ما د خپل ځان د خوشحالولو د پاره وکړه چې د قيامت پهٔ ورځ به د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام نه د دې نعمتونو پهٔ باره کښې پوښتنه کيږي او زما نه به پوښتنه نهٔ کيږي- دا يې چې واوريدل نو حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د اس نه راکوز شو او سجده يې وکړه او پهٔ ژړا يې د الله پاک پهٔ بارګاه کښې عرض وکړو: اے زما رَبه! که تهٔ جَوَاد (يعنې د ټولو نه زيات د جُود او کرم والا) او د بُخل نه پاک نهٔ وے نو ما به ضرور تا ته د دې نعمتونو د واپس اخستو سوال کولو- (يعنې عرض به مې کولو چې خپل نعمتونه واپس واخله) الله پاک وحي وفرمائيله: اے سليمانه! (د سجدې نه) خپل سر اوچت کړه! ځکه چې زهٔ د خپل بنده نه پهٔ راضي کيدو کوم نعمت هغهٔ ته ورعطا کووم د هغې حساب ترې نهٔ اخلم - (حلية الاولياء، 5/ 207، رقم:6853۔ الله والوں کی باتیں، 236/5) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جُرم          دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿2﴾ پۀ سجده کښې د دُعا کولو نه پس يـې ازادي نصيب شوه

د حضرت جعفر خُلدي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه منقول دي چې ما د حضرت خيرُ النَّسَّاج رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه پوښتنه وکړه چې تاسو د خيرُ النَّسَّاج پۀ نوم څنګه مشهور شوئ؟ آيا نَسَّاج وئ؟ يعني د کپړې جوړولو کار به مو کولو؟ اوئې فرمائيل چې نه، بلکې د دې وجه دا ده چې ما د الله کريم سره وعده کړې وه چې چرې به هم د خپل نفس پۀ خواهش باندې تازه کجورې نۀ خورم او تر ډيرې مودې پورې پۀ خپله وعده باندې قائم ووم- يو ځل نفس مجبوره کړم او ما څۀ کجورې واخستې او د خوړلو د پاره کيناستم، لا مې يوه کجوره خوړلې وه چې يو کَس ما ته پۀ غصه کتل- بيا هغۀ زما خوا له راغلو او اوئې وئيل: اے خيره! تۀ خو زما راتښتيدلے غُلام يـې! پۀ اصل کښې د هٔغه کَس يو " خير" نومې غلام وو کوم چې ترې تښتيدلے وو او هٔغه کَس د غلط فهمئ پۀ وجه زۀ خپل غلام وګڼلم! او که رښتيا خبره وکړم نو زما رنګ هم د هغۀ د غلام پۀ شان شوے وو- ډير خلق راجمع شو- څنګه چې هغوئي زۀ وليدم نو ټولو يو دَم ووئيل: پۀ الله پاک مو دې قَسم وي! دا خو ستا غلام " خير" دے- زۀ ډير ښۀ پوهه شوم چې ما ته د کوم جُرم سزا ميلاؤيږي! هٔغه کَس زۀ خپل غلام وګڼلم او دُکان ته يـې بوتلم- هلته د هغۀ نور غلامان هم موجود وو کومو چې د تارونو نه کپړې جوړولې- زۀ يـې چې وليدم نو نورو غلامانو ووئيل: اے خراب غلامه! تۀ د خپل مالِک نه تښتې؟ څه! دلته راشه! او هٔغه کار کوه کوم چې به تا کولو- بيا مالِک ما ته حکم وکړو چې لاړ شۀ او فلانکئ جامې د تارونو نه تياري کړه- څنګه چې ما کپړې جوړولې نو داسې محسوس شوه چې زۀ ډير ماهر

کاريګر يم او د تيرو ډيرو کلونو راسې دا کار کووم- نو ما د نورو غلامانو سره پهٔ شريکه کار شروع کړو- هلته پهٔ کار کولو چې ډيره موده تيره شوه نو يوه شپه ما ډير نفلونه وکړه او ټوله شپه مې پهٔ عبادت کښې تيره کړه، بيا سر پهٔ سجده شوم او دا دُعا مې وکړه: " اے زما پاکه پروردګاره! ما معاف کړې، زهٔ به بيا چرې هم خپله وعده نهٔ ماتووم-" ما هم داسې دُعا کوله، چې کله سحر شو نو وه مې کتل چې زهٔ خپل اصلي شکل ته راغلے ووم، نو زهٔ پريښودے شوم- پهٔ دې وجه زما نوم خيرُ النَّسَّاج يعني " جامو جوړولو والا خير" شو- (عيون الحکايات، ص 229ـ عيون الحکايات (اردو)، ص 46/2) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

چاہتے ہو تم دُعا اللہ فرمائے قبول
گر کے سجدے میں دعا مانگو، ہو رحمت کا نُزول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿3﴾ خوراک ميلاؤ شو

حضرت ابراهيم خَوَّاص رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو ځل پهٔ ځنګل کښې وو چې ناڅاپه يو کَس ميلاؤ شو د کوم پهٔ ليدو چې هغوئي پهٔ خپل زړهٔ کښې ناخوښي محسوس کړه، هٰغه کَس ووئيل: " زهٔ نَصراني راهِب (يعني تارک الدنيا عيسائي ) يم او د " رُوم" نه ستاسو پهٔ صحبت کښې د پاتې کيدو د پاره حاضر شوے يم-" هغوئي ته پهٔ زړهٔ کښې د پيدا شوې ناخوښۍ د حالت راز معلوم شو- هغوئي راهِب ته وفرمائيل: زما سره د خوراک څښاک هيڅ څيز نشته، هسې نهٔ چې تهٔ پهٔ تکليف کښې شې- هغهٔ ووئيل: يا سيِّدي! (يعني اے زما سرداره) پهٔ دُنيا کښې تاسو ډير مشهور يئ او تاسو تر اوسه پورې د خوراک څښاک پهٔ فِکر کښې يئ! دا يـې چې

واوريدل نو هغوئي هغۀ ته پۀ صحبت کښې د پاتې کيدو اِجازت ورکړو- 7 ورځې بغير د خوراک څښاک نه تيرې شوې- هغۀ ويريدو او اوئې وئيل: اوس معامله زما د برداشت نه وتلې ده، د خوراک څښاک څۀ انتظام وکړئ- حضرت اِبراهيم خَوَّاص رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه سر پۀ سجده شو او د الله پاک پۀ بارګاه کښې يې عرض وکړو: " يا الله پاکه دې غير مسلمه زما پۀ باره کښې ښۀ ګمان وکړو، زما عزت ستا پۀ لاس کښې دے، ما د دې غير مسلمه پۀ مخکښې مۀ رسوا کوې-" د دُعا کولو نه پس چې يې کله د سجدې نه سر راپورته کړو نو يو تالے موجود وو پۀ کوم کښې چې دوه ډوډۍ او د اوبو دوه لوښي پراته وو- د خوراک څښاک نه پس هغوئي دواړه د هٰغه ځائے نه روان شو-

د نورو 7 ورځو تيريدو نه پس چرته ايسار شو نو هٰغه راهِب سر پۀ سجده شو او دُعا يې وکړه- د سترګو پۀ رَپ کښې يو تالے ښکاره شو پۀ کوم کښې چې څلور ډوډۍ او پۀ څورو لوښو کښې اوبۀ وې- هغوئي حيران شو! خپل دا ذِهن يې جوړ کړو چې د دې نه به څۀ نۀ خورم ځکه چې دا خوراک د يو غير مسلمه د پاره راغلے دے- هغۀ ووئيل: حضور! وخورئ! او دا دوه زيري هم واورئ، يو خو دا چې زۀ اِسلام قبلووم، پۀ دې وئيلو هغۀ د شهادت کلمه ووئيله- دويم دا چې د الله کريم پۀ نزد ستاسو ډير لوئي مقام دے، ما پۀ سجده کښې دا دُعا کړې وه: " يا الله! که چرې مُحَمَّدِ مصطفٰے (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پۀ حقه رسول دے نو ما ته دوه ډوډۍ او دوه ګلاسه اوبۀ راعطا کړې او که ابراهيم خَوَّاص ستا ولي وي نو نورې دوه ډوډۍ او دوه ګلاسه اوبۀ راعطا کړې-" د دُعا کولو نه پس چې ما څنګه د سجدې نه سر راوچت کړو نو د خوراک دا تالے موجود وو- حضرت ابراهيم خَوَّاص رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه د دې اوريدو نه پس خوراک وخوړلو- او اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! هٰغه نوے مسلمان شوے د ولايت

اعلیٰ درجې ته ورسيدو- (فیضانِ سنت، 799/1 ملخصاً۔کشف المحجوب، ص239) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

خوب سجدے میں اے بھائی! گڑگڑا کر کر دعا

کام بن جائے گا تیرا اَز طفیلِ مصطفےٰ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ حضرت شبلي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ سجده کښې دُعا وکړه (واقعه)

حضرت (شيخ ابو بکر) شِبلي (بغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ) چې پهٔ دُنيا کښې انښتے (يعنې دُنيا دار) کَس وليدو نو سر پهٔ سجده شو او هغوئي دا دُعا وکړه: ”اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الَّذِیْ عَافَانِیْ مِمَّا ابْتَلَاکَ بِہٖ وَ فَضَّلَنِیْ عَلٰی کَثِیْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِیْلًا-“ (يعنې: د الله پاک شُکر دے کوم چې ما ته د دې مصيبت نه عافيت راعطا کړو پهٔ کوم کښې چې يـې ته اخته کړې او ما ته يـې پهٔ ډير مخلوق باندې فضيلت راکړو) (مراٰۃ المناجیح، 389/2) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## د دُنيا او د دِين پهٔ هرمصيبت کښې د اخته کيدونکي پهٔ ليدلو دا دُعا لولئ

د دې واقعې د نقل کولو نه پس د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي: دا دُعا چې د هر دِيني او دُنيائي مصيبت زپلي پهٔ ليدلو ولوستے شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! لوستونکے به د هٰغه مصيبت نه بچ شي- (مراٰۃ المناجیح، 389/2) دا دُعا د ترمذي شريف پهٔ حديث نمبر: 3443 کښې

بیان شوې ده- مفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: که هغه جسماني وي لکه برګے، ړوند والے یا بل څۀ بیماري، یا مالي لکه قرض، غریبي، د رزق تنګي وغیره، یا دِیني لکه کُفر، فِسق، ظُلم، (بد) بِدعت وغیره غرض دا چې د هر مصیبت د پاره دا دُعا اثرناکه ده- (مرقات، 283/5، تحت الحديث: 2429) دا دُعا دې ډیره پۀ ورو ورو ووئیلے شي چې هُغه غم زیلے یې نۀ اوري،ګني پۀ دې به هغۀ خفه شي- (لمعات التنقيح، 610/3۔ مرأة المناجيح، 38/4)

## درې بیمارۍ نا خوښې مۀ ګڼئ

درې قِسمه بیمارۍ ﴿1﴾ زُکام ﴿2﴾خارښ او ﴿3﴾ آشُوبِ چشْم ( یعنې د سترګو خوږیدو) کښې د اخته کَس پۀ لیدو دې دا دُعا نۀ لوستلے کیږي- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص70 ملخصاً) د دې بیمارو پۀ فائدو بیانولو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه فرمائي: د حضور سرورِ عالم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حدیث دے چې درې بیمارۍ مکروهې مۀ ساتئ (یعنې بدې مۀ ګڼئ) ﴿1﴾ زُکام: چې د دې پۀ وجه د ډیرو بیمارو جرړې پریکړے کیږي ﴿2﴾ خارښ: چې پۀ دې سره د خرمنې د مرضونو (Skin diseases) جُذام (یعنې برګې) وغیره مخنیوے کیږي- ﴿3﴾ آشوبِ چشم: نابینائی (یعنې ړوند والے) دفع کوي- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص70 ملخصاً)

ہر بُرائی سے تو بچا یارب! ‌‌ ‌ دیدے اَمراض سے شفا یارب!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سجدو پۀ کثرت د درجو اوچتیدل

تابعي بُزرګ حضرت مَعدان بن ابو طلحه رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه بیان کوي چې زۀ د صحابي رسول حضرت ثَوبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره میلاؤ شوم، ما عرض وکړو: ما ته داسې عمل

وښايئ کوم چې زۀ وکړم نو د هغې پۀ برکت الله پاک ما جنَّت ته داخل کړي، يا (ما دا ووئيل چې) ما ته د الله پاک د ټولو نه خوښ عمل وښايئ- حضرت ثَوبان رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ خاموشه پاتې شو- ما بيا پوښتنه وکړه، هغوئي خاموشه پاتې شو- ما چې کله پۀ دريم ځل پوښتنه وکړه نو اوئې فرمائيل: ما د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پۀ دې باره کښې پوښتنه کړې وه، نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي وو، "پۀ کثرت سره سجدې کوه ځکه چې تۀ کله هم د الله پاک د پاره سجده کوې، الله پاک به ستا يوه درجه اوچتوي او د هغې پۀ بدله کښې به ستا يوه خطا معاف کوي-" (مسلم، ص 199، حديث: 1093) پۀ يو روايت کښې دا هم دي چې الله پاک د دې پۀ سبب د سجده کوونکي د پاره يوه نيکي ليکي- (ابن ماجه، 182/2، حديث: 1424)

## د سُنَّت د ادا کولو جذبه

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د وړومبي حديثِ پاک پۀ دې حصه (ما پۀ دې باره کښې د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه کړې وه) د لاندې فرمائي: يعني ما هم د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه درې کرته دا پوښتنه کړې وه، دوه کرته سرکار (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) خاموشه پاتې شوے وو او پۀ دريم ځل يې دا جواب راکړے وو- (مرقات، 616/2 ) پۀ دې سُنَّت باندې پۀ عمل کولو زۀ هم دوه ځله خاموشه پاتې شوم- د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا خاموشي د پوښتنه کوونکي د شوق زياتولو د پاره او د حضرت ثَوبان (رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ) خاموشي پۀ دې سُنَّت باندې د عمل کولو د پاره ده، صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم به د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اداګانو نقل کولو- مفتي صاحب د حديثِ پاک پۀ دې حصه (پۀ کثرت سره سجدې کوئ) د لاندې فرمائي: داسې چې نفلونه زيات کوئ او د قرآنِ کريم د تلاوت کثرت کوئ، د شُکر سجدې ډيرې کوئ- د حديث د دې حصې (د دې پۀ بدل کښې به ستا يوه

خطا معاف کړے شي) د لاندې فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې سجده د ګناهونو کفاره ده خو د ګناهونو نه مُراد د حُقوقُ الله صغيره ګناهونه (يعنې واړه ګناهونه) دي، حُقوقُ العِباد (يعنې د بندګانو حقونه)، په ادا کولو او کبيره ګناهونه (يعنې لوئې ګناهونه) په توبه باندې معاف کيږي- (مرأة المناجيح، 85/2)

## په درجه اوچتيدو او په نيکو ليکلو کښې فرق

حضرت علامه عبدُ الرّءُف مُناوي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه يوه پوښتنه قائموي او فرمائي چې په درجه اوچتيدو او نيکو ليکلو کښې څۀ فرق دے؟ حالانکې د نيکو ليکلو په وجه درجه اوچتيږي- بيا هغوئي د دې پوښتنې جواب ارشاد کوي چې درجه اګر که د نيکو ليکلو په وجه باندې اوچتيږي خو سبب جُدا وي او مُسَبَّب (يعنې د سبب نتيجه) جُدا وي ،لهذادا دوه خيزونه شو، هم دغه شان کله داسې هم کيږي چې د نيکو ليکلو په وجه درجه نۀ اوچتيږي بلکې بله يوه ګناه ورانولے کيږي-

(فيض القدير، 621/5)

## د سجدې اندامونه به د دوزخ د وور نه محفوظ وي

د حضرت ابو هُريره رَضِیَاللهُعَنۡهُ نه روايت دے، د مدينے تاجدار صَلَّىاللهُعَلَيۡهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم فرمائي: د سجدې د نخښې نه علاوه به د انسان ټول وجود سيزلے شي- الله پاک په دوزخ باندې حرام کړي دي چې هغه د سجدې نخښه وسيزي- (مسلم، ص96، حديث: 451)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دې حديثِ پاک لاندې ليکلي دي: يعنې د دوزخ وور به د هُغه خلقو (يعنې چې کوم مسلمانان به دوزخ ته ځي) ټول اندامونه وسيزي خو د هغوئي تندي به نۀ شي سيزلے، بعضې شارحينو فرمائيلي دي چې: د سجدې 7 واړه اندامونه (دواړه لاسونه، دواړه

کونډې او دوارہ ښېځې) به محفوظ وي- (اشعة اللمعات، 418/4) بعضې شارحینو فرمائیلي دي چې د دې نه مُراد ټول مخ دے، د دې قول تائید د " بخاري شریف" د دې حدیث "وَيُحَرِّمُ اللهُ صُوَرَهُمْ عَلَى النَّارِ " (بخاری، 554/4، حدیث: 7439) (یعني الله پاک به د هغوئي صورتونه په وور باندې حرام کړي) (مرآة المناجیح، 437/7 ملخصاً)

## اوچتې مرتبې د نفس په مخالفت باندې نصیب کیږي

حضرت شیخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حدیثِ پاک د حصې (په خپل نفس باندې د سجدو په کثرت سره زما مدد وکړئ) د لاندې فرمائي: دا فرمان هُم داسې دے لکه څنګه چې طبیب مریض ته وائي: زۀ به ستا علاج په داسې دوایي باندې کوم په کومه باندې چې به تا ته شِفا حاصله شي خو تۀ پرهیز او زما په خبرو باندې په عمل کولو زما مدد (یعني زما سره مرسته) وکړۀ او د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم " په خپل نفس باندې" په فرمائیلو کښې په دې خبره باندې خبردارے ورکول دي چې اوچتې مرتبې صرف د نفس د مخالفت په ذریعه حاصلیږي- (لمعات التنقیح، 173/3)

د دې حدیثِ پاک نه دا هم معلومه شوه چې د بزرګانو خدمت کول او په کوم کار کښې چې د هغوئي خوشحالي وي هغه پوره کول په حقیقت کښې د فضیلت او سعادت حاصلیدو ذریعه ده، خاص طور د دوارو جهانو د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا (یعني خوشحالۍ) خیال ساتل خو د دِین او د دُنیا د ټولو نه لوئې سعادت او خیر دے-

(اشعة اللمعات (اردو)، 247/2 ملخصاً)

## د ښۀ زیرې په اوریدو د شُکر سجده کول سُنَّتِ مُستَحَبَّه دے

اے د نـمونځ عاشقانو! کله چې هم د خوشحالۍ خبر میلاؤ شي، دوه رکعته نـمونځ شکرانه ادا کول یا د شُکر سجده کول پکار دي- " د دِین یا د دُنیا د خوشحالۍ

خبر پهٔ اوریدو سجدې کولو ته د شُکر سجده وئیلے شي-" (مراٰۃالمناجیح،388/2) حضرت ابو بَکره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ روایت کوي چې کله به رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د څهٔ خوشحالۍ خبر راورسیدو یا به هغوئي خوشحاله وو نو د الله پاک شُکر به یې ادا کولو او سجده به یې کوله- (ابو داؤد،117/3، حدیث: 2774) حضرت مفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د شُکر سجده ادا کول د مدینے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم نه ثابت دي- (مراٰۃالمناجیح،389/2 ماخوذاً) آیا مونږه هم چرته د خوشحالۍ پهٔ موقع باندې د شُکر سجده ادا کړې ده؟ د "ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت" نه دوه عرضونه او ارشادات وګورئ، عرض: د شُکر سجده سُنَّت ده که مستحب؟ ارشاد: سُنَّتِ مُستَحَبَّه ده- کوم وخت چې د ابو جهل لعین سر پرې کړے شو او د سرکار (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پهٔ بارګاه کښې حاضر کړے شو نو هغوئي د شُکر سجده وکړه- عرض: د شُکر د سجدې نیت که پهٔ نـمونځ کښې وکړے شو نو څهٔ باک خو پکښې نشته؟ ارشاد: هیڅ باک پکښې نشته او بهتره دا ده چې د نـمونځ نه بیله وکړے شي- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص، 379، 146)

پهٔ "بهارِ شریعت" کښې دي: "د شُکر سجده مثلاً اولاد پیدا شو یا مال لاس له راغلو یا ورک شوے څیز راپیدا شو یا مریض شِفا بیاموندہ یا مسافر واپس راغلو، غرض پهٔ هر نعمت باندې سجده کول مستحب ده-" (بهارِ شریعت، 738/1، 739)

الله کریم دې مونږ ته هم د خوشحالۍ پهٔ زیري اوریدو باندې د شُکر د سجدې ادا کولو توفیق راعطا کړي- د الله پاک پهٔ کرم باندې که تاسو ته د دې خوشحالۍ زیرے میلاؤ شي چې ستاسو د حج یا د عمرې د پاره د مدینے منورې د حاضرۍ ویزه ولګیدله نو پهٔ دې باندې تاسو ته د شُکر سجده ادا کول پکار ده-

اے کاش! کوئی آکر، کہدے مرے کانوں میں
چل! تجھ کو مدینے میں، سرکار بُلاتے ہیں

## د سجدهٔ شُکرطريقه

د سجدهٔ شُکر (او د تلاوت د سجدې) کولو دواړو هم يوه طريقه ده- د مکـتبة الـمدينه د 1250 صفحو کتاب ”بهارِ شريعت“ پهٔ جلد اول صفحه 731 باندې دي: (د تلاوت او د شُکر) د سجدې کولو سُنَّت طريقه دا ده چې (پهٔ اوداسه کښې) ودريږې او اَللّٰهُ اَکۡبَر ووائې او سجدې ته ښکته شې او کم از کم درې کرته سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡاَعۡلٰی ووائې، بيا اَللّٰهُ اَکۡبَر ووائې او ودريږې، مخکښې او وروستو دواړه ځل اَللّٰهُ اَکۡبَر وئيل سُنَّت دي او درېدل او سجدې له تلل او د سجدې نه پس درېدل دا دواړه ځل درېدل مستحب دي- (بهار شريعت، 731/1) د تلاوت د سجدې (او د شُکر د سجدې) د پاره د اَللّٰهُ اَکۡبَر وئيلو پهٔ وخت نهٔ لاسونه پورته کول شته او نهٔ پهٔ دې کښې تَشَهُّد شته او نهٔ سلام- (بهار شريعت، 733/1)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ سجده کښې يې تندي ته نقصان ورسيدو

حضرت ابو اسماعيل مُرَّه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به روزانه زر[1000] رکعته نفلونه ادا کول او چې کله يې عمر ډير زيات شو نو 400 رکعتونه به يې ادا کول- (البداية والنهاية، 565/5) حارِث غَنَوي وائي چې ”يو ځل هغوئي دومره اوږده سجده وکړه تر دې پورې چې خاورو يې تندي ته نقصان ورسولو-“ پهٔ 76 هجری کښې هغوئي وفات شو- (تهذيب التهذيب، 107/8۔ رحمت بھری حکايات، ص 47 تا 48)

## نُوراني تندے

حضرت ابو اسماعيل رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې کله وفات شو نو پهٔ کور والؤ کښې چا هغوئي پهٔ خوب کښې پهٔ داسې حالت کښې وليدو چې لکه د هغوئي د سجدې

ځائے د پړقیدونکي ستورې پۀ شان روښانه دے، نو عرض يې وکړو: دا ستاسو پۀ مخ باندې څۀ وشو؟ هغوئي وفرمائيل: "زما تندے د خاورې د نقصان رسولو پۀ وجه باندې نُوراني کړے شوے دے-" عرض يې وکړو: پۀ اخرت کښې ستاسو کوم مقام نصيب شو؟ اوئې فرمائيل: "بهترين کور دے، د کوم اهل (يعني اوسيدونکي چې) د دې ځائے نه نۀ بدليږي او نۀ هغوئي مړه کيږي-"
(موسوعه لابن ابی دنیا، 58/3، رقم: 56)

## د رحمت نه ډک حکايت

دا هم منقول دي چې د وفات نه پس چا حضرت ابو اسماعيل رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه پۀ خوب کښې وليدو چې د هغوئي د سجدې پۀ ځائے باندې نُور جوړ شوے دے نو پوښتنه يې وکړه: تاسو چرته يئ؟ جواب يې ورکړو: "زۀ پۀ داسې کور کښې يم د کوم اهل (يعني اوسيدونکي چې به) نۀ د دې ځائے نه ځي او نۀ به ورله مرګ راځي-" (البداية والنهاية، 565/5) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د څۀ غوړولو نه بغير سجده کول افضل دي

پۀ "اِحياءُ العلوم" کښې دي: "د (تابعي بُزرګ) حضرت عُمَر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه عادت مبارک وو چې هميشه به يې سجده پۀ زمکه باندې کوله، د سجدې پۀ ځائے باندې به يې مصلّٰي وغيره نۀ غوړوله-" (احیاء العلوم، 204/1۔ احیاء العلوم (اردو)، 466/1) د مدينے تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "د الله پاک پۀ نزد د بنده دا حالت د ټولو نه زيات خوښ دے چې هغۀ پۀ سجده کولو ووينې چې مخ پۀ خاورو پورې مږي-" (معجم اوسط، 308/4، حدیث: 6075)

## پهٔ خاورو د خړ تندي فضيلت

تر څو پورې چې د نـمونځ کوونـکي پهٔ تندي پسې د سجدې پهٔ وخت لګيدلې خاوره باقي پاتې وي، فرښتے ورله د بخښنې دُعا کوي، لکه څنګه چې د مدينے شهنشاه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "پهٔ تاسو کښې چې کوم کَس تر څو پورې د نـمونځ نه فارغ نهٔ شي د خپل تندي نه دې (خاوره) نهٔ صفا کوي ځکه چې تر څو پورې د هغهٔ پهٔ تندي باندې د نـمونځ د سجدې نخښه وي فرښتے د هغهٔ د پاره د بخښنې دُعا کوي-" (معجم کبير، 56/22، حديث: 134)

(پهٔ نـمونځ کښې) د تندي نه خاوره يا ګيا لرې کول مکروهِ (تنزيهي) دي، هله چې د هغې پهٔ وجه پهٔ نـمونځ کښې څه تشويش نهٔ وي او که تـکبر مقصود وي نو کراهتِ تحريمي (ناجائزه او ګناه) ده او که ضرر رسوي يا پام بدلوي نو (پهٔ لرې کولو کښې يـې) هيڅ باک نشته او د نـمونځ نه پس پهٔ لرې کولو کښې خو يـې مطلقاً څهٔ باک نشه بلکې (لرې کول) پکـار دي، چې رِيا پيدا نهٔ شي-

(بهارِ شريعت، 631/1ـ فتاوىٰ ہنديه، 105/1)

## پهٔ مخ باندې د سجدې نخښه

حضرت اِمام فخرُ الدِّين محمد بِن عُمَر رازي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د 26 سيپارې د سُورَةُ الفتح د آيت نمبر: 29، ﴿سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ﴾ (ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغوئي علامت د هغوئي پهٔ مخونو کښې د سجدو د نخښو نه دے-)" پهٔ تفسير کښې فرمائي: پهٔ دې کښې دوه قولونه دي: يو قول دا دے چې دا د سجدې نخښه (به پهٔ دُنيا کښې نهٔ بلکې) د قيامت پهٔ ورځ وي، نو اللّٰه کريـم اِرشاد فرمائي: ﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ﴾ (ترجمهٔ کنزُالعِرفان: پهٔ کومه ورځ به چې ډير مخونه روښانه وي (پ4، آلِ عمران: 106)) نور ارشاد فرمائي: ﴿نُوْرُهُمْ يَسْعٰى﴾ (ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغوئي نُور به د هغوئي نه مخکښې

منډې وهي (پ 28، التحریم: 8))او د هغوئي په مخونو کښې به نُور، د الله پاک طرفته د توجه کولو په وجه وي لکه څنګه چې حضرت ابراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام وئيلي وو: ﴿وَالْاَرْضَ اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ﴾ (ترجمهٔ کنزُالعِرفان: زۀ د هر باطل نه جُدا شوم، خپل مخ مې د هغه طرف ته کړو چا چې اسمانونه او زمکه جوړ کړي دي- (پ 7، الانعام: 79)) او کوم کَس چې نمر ته مخامخ ودريږي نو د نمر رڼا د هغهٔ په مخ باندې پريوځي د کومې په وجه چې د هغهٔ په مخ باندې ښه نُور ظاهر شي حالانکې د نمر نُور (يعنې رڼا) عارضي وي کومه چې ختميږي، او الله کريم د اسمانونو او د زمکې منور يعنې روښانه کولو والا دے، نو کوم کَس چې د هغهٔ طرف ته متوجه شي د هغهٔ په مخ باندې به داسې نُور ظاهر شي کوم چې به د انوارو (يعنې رڼاګانو) نه ډک وي- دويم قول دا دے چې د سجدې دا نخښه به په دُنيا کښې وي، بيا په دې کښې نور دوه قولونه دي: يو قول دا دے چې د دې نه مُراد هُغه نخښه (يعنې تور داغ) دے کوم چې د زياتو سجدو د کولو په وجه په تندي باندې ظاهريږي- دويم قول دا دے چې د دې نه مُراد هُغه حُسن دے کوم چې الله پاک د شپې د سجده کوونکو په مخونو باندې د ورځې ظاهر وي او د عقل مندو د پاره دا خبره بالکل ثابته ده چې دوه کسان د شپې ويخ وي، يو کَس د شرابو څښلو او د لَـهو ولَعِب (يعنې په لوبو ټوقو) کښې په مشغوليدو تيروي او بَل يـې په نـمونځ، قراءَت او عِلمِ دِين حاصلولو کښې تيروي نو په صبا له هر کَس په شرابو او لوبو ټوقو کښې د شپې تيرونکي او په ذِکر او شُکر کښې د شپې تيرونکي ترمينځه فرق کولے شي- (تفسیر کبیر، 89/10)

## د تندي د داغ متعلق د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه "اَقُول"

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په " فتاویٰ افريقه" کښې د سجدې د نخښې په باره کښې د اوږد بحث کولو نه پس په صفحه 66

باندې ليکلي دي: اَقُول (يعنې زهٔ وايم): پهٔ دې باره کښې تحقيق حکم دا دے چې خلقو ته د ښودلو د پاره قصداً دا نخښه جوړول قطعي حرامه او ګناهِ کبيره ده او هٔغه نخښه مَعَاذَالله! د هغهٔ اِستحاقِ جهنم (يعنې د دوزخ د حقدار کيدو) نخښه ده تر څو پورې چې توبه نهٔ کړي- او که هٔغه نخښه د ډيرو سجدو پهٔ وجه پخپله پيدا شي نو هٔغه سجدې که چرې د رِيا (يعنې خلقو ته د ښودلو د پاره) وې نو کوونکے دوزخي او دا نخښه اګر که پخپله جُرم نهٔ دے خو د جُرم نه پيدا شوه- ځکه دا د ناريت (يعنې د دوزخي کيدو) نخښه ده- او که هٔغه سجدې خالص طور لِوَجهِ الله (يعنې خالص د الله پاک د پاره) وې خو پهٔ دې نخښه پيدا کيدو خوشحاله شو چې خلق به ما عابِد ساجِد (يعنې عبادت کوونکے سجده کوونکے) ګڼي نو بيا رِيا راغله او دا نخښه د هغهٔ پهٔ حق کښې مَذمُوم (يعنې د غندنې قابله) شوه- او که دې طرف ته څهٔ اِلتفات (يعنې پام) نشته نو دا نشانِ محمود (يعنې د تعريف لائق نخښه) ده- او د يوې ډلې پهٔ نزد پهٔ آيت مبارک کښې د دې تعريف موجود دے- اميد دے چې پهٔ قبر کښې به د فرښتو د پاره د هغهٔ د ايمان او د نـمونځ نخښه وي او د قيامت پهٔ ورځ به دا نخښه ډيره نُوراني وي- (فتاوٰیٰ افريقه، ص66)

## د تهجد ګزاره مخ نُوراني کيږي

د حضرت حَسنِ بَصري رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیہ نه پوښتنه وکړے شوه چې څهٔ وجه ده چې د تهجدو کوونکو مخونه ښائسته (يعنې نُوراني) وي؟ هغوئي وفرمائيل: "ځکه چې هغوئي د خپل پاک پروردګار د پاره تنهائي اِختياروي نو الله پاک هغوئي ته د خپلې نُور جامې اغوندي-" (احياء العلوم، 5/147۔ احياء العلوم (اردو)، 5/374)

## نيکي د زړهٔ نُور او د مخ ځلا ده

يو بُزرګ فرمائي: د نيکۍ کولو سره پهٔ زړهٔ کښې نُور، پهٔ مخکښې ځلا، پهٔ رزق کښې فراختيا (يعنې زيات والے) او د خلقو پهٔ زړونو کښې د هغهٔ د پاره محبت پيدا

کيږي- د اميرُ الْمُؤمِنين حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِرشاد دے: يو کَس يو کار په پټه ډير په رازدارۍ کوي، الله پاک د هغې ځښې د هغهٔ په مخ او د هغهٔ په کلام (يعنې خبرو) کښې ښکاره کوي- (تفسير القرآن العظيم، 337/7)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کراټو والا لوبغاړے مُبَلِّغ څنګه جوړ شو؟

د سجدو د خوندونو موندلو، د تکبر نه د نجات حاصلولو او ځان د عاجزۍ د نمونې جوړولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم، "دعوتِ اِسلامي" په قافلو کښې سفر کوئ- مَدَني سپرلے: په فيصل آباد کښې اوسيدونکے يو اِسلامي ورور د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ډير د خراب کردار مالِک وو، دروغ، غيبت، چغلي، بد نظري او جنګ جګړې د هغهٔ په روزانه معلوماتو کښې شامل وو- هغه مارشل آرټس (يعنې کراټې وغيره) زده کړې وې د کومو له وجهې چې به يې د خلقو سره بر ناحقه جګړې په خپل سر اختسې- هر نوے فيشن اِختيارول د هغهٔ مشغولتيا وه، افسوس چې هغهٔ د نمونځونو نه دومره لرې وو چې دا پته ورته هم نهٔ وه چې د کوم يو نمونځ څومره رکعتونه وي! اخر د هغهٔ بخت داسې رابيدار شو چې د هغهٔ ملاقات د خپل پخواني ملګري سره وشو کوم چې د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون لرلو، هغوئي انفرادي کوشش وکړو او هغوئي ته يې په قافله کښې د سفر کولو دعوت ورکړو، د هغهٔ انفرادي کوشش کامياب شو او دا لاس په لاس د دريو ورځو د قافلې مسافر جوړ شو- په قافله کښې د عاشقانِ رسول د صحبت په برکت هغهٔ ته د خپل ژوند مقصد معلوم شو او هغه په خپلو ګناهونو باندې پښيمانه شو چې د ژوند ډيره لويه حصه ما په غفلت کښې تيره کړه، د هغهٔ داسې زړهٔ خوږيدل نصيب شو چې کله به يې هم

بیان اوریدو نو د سترګو نه به يـې اوښکې بهیدلې تر دې پورې چې د قافلې نه پهٔ واپسۍ يـې هم ژړل- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغې ورځې نه پس هغهٔ د دعوتِ اِسلامي لَمَن ونیوله، هغه دا وخت د ډویژن پهٔ کچ د قافلې د ذِمه دار پهٔ حیث پهٔ دِیني کارونو کولو کښې مصروف دے-

اُلفتِ مُصطفٰے اور خوفِ خدا    چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو

(وسائلِ بخشش، ص 669)


یا ربَّ مکـتبة الـمُصطَفـٰے: مونږ ته د فرائضو سره سره د ښهٔ ډیرو نفلونو د ادا کولو او پهٔ کثرت سره د سجدو کولو سعادت راعطا کړې-

فرائِض پڑھوں، خوب نفلیں پڑھوں میں    کَرَم کر خُدا! خوب سجدے کروں میں

(وسائلِ بخشش، ص 669)

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ

+92 21 111 25 26 92 / 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net